AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر
۲۰۲۴/۰۶/۲۱

# له ګیډې فتوې

چـور او تا لا کي ،له کورنو دروازې وباســـئ
په بی رحمی له هرې کلي جـــــــنازې وباسئ

همدا ادعـــا کوئ، چـــي ملا مــو ده ترلي دکار
مونږ ادا دی وینو چي د خلکو نه جـــامي وباسئ

پټ په خلوت کي ، له کارو نه مو خبر دي خلک
چې په ورو ورو کي له تسبو ځيني داني وباسئ

د موسيـــــقی له کیـــفیت نه، بی خـــــــبره ډلو
د انســـــانیت له باغ و بڼ ځيني نغــــمي وباسئ

د معرفت له ساز و سرُ نه مو خوند وا نه خیستو
له خپل ځــانه په خپل رســـــم، ترانې وباســـئ

سپيځلي دين په مدعا باندی مــو، شـــک کړو پیدا
چې هر قـــدم کي له خپل ګیډې نه فـــتوې وباسئ

چي صداقت موپه رښتیاشي، ټول جهان ته ښکاره
ځانونه وځــــــندی، لستونو نه، پــــيالي وباســـئ

یوه ســـالم نیوکه نه وي ، چـــا د خــــولي وتلي
چي ســــم د واره ،بیا له جیب ځيني ټاپي وباسئ

چیرته چي وي د علم و فن، اود تعـــــليم خبری
لکه دیوان له رڼائی نه ، تاســـي خــــپې وباسئ

تاته ښـــودلي دي دښـــمن د بربادی درســـونه
چي مکتبو او جــــوماتو ځــــــيني لمبي وباسئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځير و لولــئ